د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# غبرګ ولسمشران او د سولې تتې هڅې



د امريکا بهرنيو چارو وزير مايک پمپيو د مارچ په 22 نېټه په يو ناڅاپي سفر په دې موخه کابل ته راغی تر څو د ولسمشر محمد اشرف غني او پخواني اجرائيه رئيس ښاغلي عبدالله عبدالله ترمنځ د ولسمشرۍ څوکۍ پر سر اختلافاتو ته د پای ټکی کېږدي، او په افغانستان کې يو ټول‌شموله حکومت جوړولو ته لاره هواره کړي. کوم چې وکولی شي د امريکا او طالبانو ترمنځ د لاسليک شوې هوکړې پر وړاندې خنډونه له منځه يوسي. خو داسې ښکاري چې د کابل څخه ناهيلی ستون شو. دا چې له ټاکنو وروسته د دوو ولسمشرانو شتون په رښتيا د سولې پر وړاندې خنډ ګڼل کېدای شي او که نه؟ له دې پرته د طالب زندانيانو خوشې کېدا ، او د افغان حکومت له لوري ټاکل شوی پلاوی، او افغانستان ته د سولې راتګ په کوم حالت کې دي؟ په دې تحليل کې پرې شننه کوو.

## د پمپيو سفر او د دوو مشرانو نانديرۍ

څو ورځې وړاندې مايک پمپيو د ولسمشر محمد اشرف غني او پخواني اجرائيه رئيس ډاکتر عبدالله عبدالله ترمنځ شته اختلافاتو پای ته رسولو په موخه کابل ته راغی. خو ښاغلی پمپيو چې د پخواني بهرنيو چارو وزير جان کيري ځای ناستی دی د نوموړي پر خلاف په خپلې اوسنۍ دې هڅه کې ونه توانېد چې د محمد اشرف غني او ډاکتر عبدالله عبدالله ترمنځ د بيا ځلي ګډ شموله حکومت رامنځ ته کېدو ته ور پرانيزي، نو د نوموړي له سفر وروسته د امريکا بهرنيو چارو وزارت د يوې اعلاميې په خپرولو سره پر افغانستان سږ او راتلونکي کال کې د يو يو ميليارد ډالرو مرستو کمولو ګوابښ وکړ. له دې پرته په خپره شوې اعلاميه کې يې دا هم څرګنده کړې ده چې امريکا به له افغانستان سره د نړيوالو مرستندويانو په کنفرانسونو کې په خپلو مرستو له سره غور وکړي.

له يوې خوا د کرونا وايروس وېره چې د افغانستان په ګډون يې د نړۍ ډېر شمېر هېوادونه ځپلي او له بلې خو پر افغانستان د امريکا د مرستو بندېدو ګوابښ افغان ولس د اقتصادي تشې له يوې بلې سترې وېرې سره مخ کړ. د

اقتصادي مرستو ځنډولو ګواښ وروسته ولسمشر محمد اشرف غني ولس ته په خپله وينا کې څرګنده کړه چې د امريکا لخوا د مرستو ځنډول به افغان ولس په لويه کچه ځکه اغېزمند نه کړي چې ورته حالاتو ته يې له وړاندې تياری نيولی وو. نوموړي بيا ځلې څرګنده کړه چې ټول شمول له حکومت جوړولو ترځنګ دې ته هم تيار دی چې په تېرو ولسمشريزو ټاکنو کې د خپل سيال ډاکتر عبدالله عبدالله ټيم کسانو ته په نوې جوړېدونکې کابينه کې هم ځای ورکړي. مګر د نوموړي پر وينا هغو غوښتنو ته تيار نه دی چې د اساسي قانون سره په ټکر کې وي او پر ډاکتر عبدالله عبدالله يې تور ولګاوه چې ورته غوښتنې ترې لري. خو بلخوا ډاکتر عبدالله عبدالله بيا يوې خبرې غونډې ته څرګنده کړه چې د هېواد شته نازک وضعيت ته په کتو يې هڅه کړې او دې ته تيار دی چې له ډېر څه تېر شي، مګر پر ولسمشر محمد اشرف غني يې دا تور ولګاوه چې پر خپلو غوښتنو ټينګار کوي او همدا لامل دی چې له افغانستان سره د امريکا له لوري مرستې وځنډېدې. نوموړي د مرستو ځنډول د امريکا له لوري لومړنی ګام وباله او د نورو هغو په اړه يې وېره څرګنده کړه. په داسې حال کې چې ولسمشر محمد اشرف غني او ډاکتر عبدالله عبدالله د تېرو ولسمشريزو ټاکنيزو کمپاينونو کې ګواښ کاوه چې په هيڅ صورت کې به د تېر ملي يووالي حکومت په څېر ګامونو اخيستو ته اجازه ور نه کړي، خو کابل ته د امريکايي چارواکو تاوده سفرونه او څرګندونې د دې ښکارندويي کوي چې امريکايي چارواکی غواړي د تېر ملي يووالي حکومت تجربه په يوې نوې بڼې بيا ځلې پلې کړي.

## د سولې هوکړه او زندانيان

افغانستان ته د سولې راتګ په اړه د امريکا او طالبانو ترمنځ د شوې هوکړې له مخې د بين الافغاني خبرو اترو وړاندې اړينه ده تر څو د طالبانو 5 زره او د افغان حکومت زر تنه زندانيان خوشې کړای شي. دډېرو ناندريو وروسته ايله اوس خبره دې ته يو څه هواره شوې ده چې ښايي د طالب زندانيانو اوله جوپه د بګرام زندان څخه آزاد شي. همدارنګه د لاسليک شوي تړون له مخې طالبان اړ دي ترڅو له افغان لوري سره بين الافغاني خبرې اترې پيل کړي، په داسې حال کې چې د تړون په لومړنۍ برخه کې دا هم راغلي چې د بين الافغاني خبرو اترو وړاندې دې د دواړو خواوو ځانګړي شمېر زندانيان د باور فضاء رامنځ ته کولو په پار خوشې کړای شي. کابل ته د امريکايي چارواکو وروستي پرلپسې سفرونه څخه داسې په ډاګه کېږي چې امريکا لاسليک شوي تړون ته ژمنتيا لري، خو بلخوا د يادو چارواکو له لوري په نويو دواړو ولسمشرانو د ګډ حکومت جوړولو غږکول دا ښيي چې امريکا په افغانستان کې خپلو ګټو ته په کتو ګامونه اخلي او افغان سوله يې خپلو ګټو سره تړلې ده. دا ځکه که امريکا په رېښتينې توګه غوښتل چې د سولې پروسه پرو خت او ښه پرمخ ولاړه شي نو اړينه وه چې د تېرو ټاکنو ترسره کېدو وړاندې يې ياده پروسه پرمخ وړې وه. بلخوا د طالبانو لخوا د بين الافغاني خبرو اترو وړاندې د خپلو زندانيانو خوشې کېدا او له افغان حکومت سره د رسمي اړخ په توګه نه خبرې، کولی شي افغانستان ته د سولې راتګ نه يوازې ځنډنی بلکې د ناهيلۍ خوا ته يوسي، چې په اوس وخت کې د سولې پر وړاندې ستر خنډ ګڼل کېدای شي. خو د زندانيانو خوشې کېدلو په اړه د افغان حکومت، امريکا، قطر او طالبانو استازو ترمنځ د ويډيوي کنفرانسونو ترسره کېدل او کابل ته د خپلو زندانيانو ليست تائيد په خاطر د طالب مشرانو يو هيئت راتګ چې د طالبانو پر وينا د سره صليب په غوښتنه يې د کرونا وايروس له امله د اوس لپاره ځنډولی او ښايي په نږدې راتلونکې کې ترسره شي. د سولې پر وړاندې د زندانيانو جنجالي موضوع له منځه وړلو هيله پيدا کوي چې ښايي د نوې ټاکل شوې مودې يعنې مارچ په ۳۱ نېټه د زندانيانو خوشې کېدل پيل شي.

## د بين الافغاني خبرو اترو لپاره د هيئت ټاکنه

د حمل په ۹ نېټه افغان حکومت ۲۱ کسیزه پلاوی چې مشري يې بناغلی معصوم ستانکزی کوي وټاکه. د سولې په چارو کې د دولت وزارت د پلاوي ټاکلو په اړه څرګنده کړه چې په دې برخه کې د ټولو خواوو سره هر اړخیزې مشورې شوي دي. که څه هم یو شمېر سیاسي مشران بیا نیوکه کوي چې یاد پلاوی افغان حکومت په خپله خوښه ټاکلی او له هغوی سره پرې مشورې نه دي شوي.

د پلاوي ترکیب ته په کتو لیدل کېږي چې تر یو حده د مهمو ګوندونو استازي، مدني فعالان او د ښځو استازي پکې ځای پر ځای شوي دي، خو د پلاوي د غړو تجربو او د سولې پېچلې موضوع ته په کتو ښايي هغوی دا ستره دنده په ښه توګه تر سره نه کړای شي. بلخوا د پلاوي ټاکلو په اړه د طالبانو وروستۍ اعلامیه چې ټول شموله يې نه ګڼي او څرګندوي چې افغان حکومت باید د پلاوي ټاکلو پرته د هغه پلاوي برخه واوسي چې د افغان لوري لخوا باید چمتو شي او په دې توګه طالبان بیا ځلې څرګندوي چې نه غواړي افغان حکومت ورسره د یو رسمي اړخ په توګه خبرې پیل کړي او اوسنی پلاوی ردوي. د پلاوي ټاکلو په اړه نوې نانددرۍ ښايي نه یوازې د دواړو خواوو د زندانیانو خوشې کېدا، بلکې افغان سوله هم له یو نوي ځنډ سره مخ کړي. د افغان سولې د ځنډ یو ستر لامل دا هم ګڼل کېدای شي چې امریکا له یوې مخې طالبانو سره په یو شمېر برخو کې ژمنې ترسره کوي، په داسې حال کې چې د یادوو شویو ژمنو پړه بیا پر افغان حکومت وراچوي او په دې توګه هم ځان له پړتیا وباسي او هم د افغان سولې روانه پروسه ځنډنۍ کوي. د بېلګې په توګه له یوې مخې طالبانو ته د هغوی د زندانیانو خوشې کېدلو ژمنتیا ورکول او په ورته وخت کې په افغانستان کې د تېرو ټاکنو په لړ کې د دوو ولسمشرانو راتګ ته زمینه برابرول او بیا له هغوی څخه د یو ټول شموله حکومت جوړولو غوښتنه کول ترڅو د زندانیانو خلاصون او بین الافغاني خبرو اترو ته لاره اسانه کړي.

## پایله

په هېواد کې د دوو ولسمشرانو شتون او له بلې خوا د امریکا او طالبانو ترمنځ د لاسلیک شوې هوکړې له مخې د ژمنو نه پلي کول د هېواد په سطحه د تاوتریخوالي کچې زیاتوالي لامل شوی دی. د بېلګې په توګه څو ورځې وړاندې په کابل کې د سیکانو په عبادت ځای برید څخه جوتېږي چې یو شمېر کړۍ دې وضعیت څخه په ګټې اخیستو د سولې روانې پروسې سبوتاژ کولو په هڅه کې دي نو ځکه د سولې فرصت باید ضایع نه شي.

د سولې پېچلې موضوع ته په کتو افغان حکومت او طالبان که په ریښتیني توګه غواړي تل پاتې سولې ته لاره پیدا کړي نو اړینه ده چې ټولې خواوې هغه موضوعات چې د سولې روانې پروسې پر وړاندې ستونزې زېږوي پر خپل وخت حل کړي او په دې اړه په افغانستان کې د تېرو ترخو تجربو ته په کتو دواړه خواوې کولی شي د سولې موضوع پر وړاندې ستونزې راکمې کړي.

افغان سیاسي مشران باید د واک پر سر د ولسمشر محمد اشرف غني او ډاکتر عبدالله عبدالله ترمنځ منځګړیتوب ته زر راودانګي ترڅو په پایله کې د سولې روان فرصت څخه پر وخت او سمه توګه ګټه واخیستل شي. او همدا مشران کولی شي د امریکا او نورو هېوادونو په پرتله په اغېزناکه توګه د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د باور فضاء رامنځ ته کېدو ته اسانه او معقوله لاره پیدا کړي، ترڅو په هېواد کې سرتاسري اوربند پلي او د سولې راتګ حتمي شي.

# خبرتیا

د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړونو مرکز په پام کې لري چې د روان کال حمل میاشتې 15 نېټې څخه وروسته اوونیز تحلیل په هرو دوو اوونیو کې یو ځل نشرته وسپاري.

محترم لوستونکي دې خبر وي.

# معارف  افغانستان؛ چالش ها و راه حل ها



حلقه (۲): چالش های بیرونی

## اصلاحات در سکتور معارف

اداره مؤقت افغانستان در سال ۱۳۸۱هـ.ش چه از نگاه نیروی بشری دارای ظرفیت و مهارت های لازم و چه از نگاه ساختمان و زیربنا یک نظام ناقص و معیوب معارف را به ارث برده بود که توانائی محدود ارایهٔ خدمات تعلیمی و تربیتی را داشت و کیفیت آن جداً زیر سؤال بود. احصائیه های ذیل که از سوی وزارت معارف صورت گرفته پاره ای از مشکلات موجود در آن مقطع زمانی  را از دید وزارت معارف کشور نشان میدهد:

- کمتر از یک میلیون پسر در ۳۴۰۰ باب مکتب تعلیمات عمومی توسط ۲۰۷۰۰ معلم مصروف تعلیم بودند و سیستم معارف آن زمان پاسخ گوی نیازمندی های مردم نبود.
- نصاب تعلیمی واحد، ملی و معیاری و کتب درسی ستندرد موجود نبود.
- صرف چهارباب دارالمعلمین در چهار ولایت با داشتن۴۰۰ تن محصل و ۵۰ تن استاد که همه از طبقه ذکور بودند، فعال بود .
- به تعداد ۳۸ باب مکتب تعلیمات مسلکی وحرفوی قسماً فعال بود که ۱۵۰۰ تن متعلم و ۵۰ تن استاد از طبقه ذکور در آن مصروف تعلیم و تدریس بودند.

- سالانه فقط ۲۲۰۰۰ تن شاگرد از طبقه ذکور در کورس های سواد آموزی آموزش می دیدند.
- تنها۷۹۰۰ تن محصل در ۱۵ موسسهٔ تحصیلات عالی شامل بودند.

از سال ۱۳۸۱هـ.ش بدین سو سکتور معارف اصلاحات اساسی را دنبال و به دستاورد های چشم گیری نایل آمده است. برخی از پیشرفت ها و انکشافات عمده الی اخیر سال ۱۳۸۸هـ.ش این وزارت ذیلاً تذکر می یابد:

- افزایش هفت برابر در شمولیت شاگردان: بصورت مجموعی ۷ میلیون تن شاگرد در ۱۲۰۰۰ باب مکتب عمومی، ازجمله 37% آن اناث، مصروف تعلیم هستند.
- افزایش بیشتر از هشت برابر در تعداد معلمین: «یعنی امروز در نظام معارف به تعداد ۱۷۰۰۰۰ تن معلم که 30% آن اناث می باشند، مصروف خدمت هستند « .
- تعداد مدارس رسمی تعلیمات اسلامی به ۵۵۰ باب افزایش یافته و ۱۳۶۰۰۰ تن طالب در آن مصروف کسب علوم اسلامی اند که 9% شان را طبقه اناث تشکیل می دهد.
- اداره تعلیمات اسلامی از ریاست به سطح معینیت تعلیمات اسلامی ارتقا یافت و برای اولین بار در تاریخ کشور شاخه از جامعه ازهر (انستیتیوت علوم اسلامی الازهر) در کابل افتتاح و تدریجاً به شهرهای بزرگ کشور توسعه خواهد یافت.
- نصاب درسی ملی برای تمامی مکاتب عمومی و اسلامی تهیه شده. کتب جدید برای تعلیمات اساسی(۹-۱) تألیف، چاپ و توزیع گردیده، توقع میرود که تهیه و تألیف کتب درسی برای دوره ثانوی تعلیمات عمومي در سال ۱۳۸۹هـ.ش و از تعلیمات اسلامی در سال۱۳۹۳هـ.ش تکمیل گردد.
- تعداد مراکز تربیه معلم از ۴ باب به ۴۲ باب افزایش یافته، حد اقل یک مرکز در هر ولایات با تسهیلات لیلیهٔ ذکور و اناث که در آن ۴۲۰۰۰ تن (38%زنان) مصروف تحصیل اند، فعال میباشد.
- برعلاوه در سطح ولسوالی ها ۷۳ باب مرکز تربیه معلم در جوار مکاتب ایجاد گردیده تا در آن درجهٔ تحصیلی معلمین مکاتب در برنامه های داخل خدمت ارتقاء یابد.
- شمولیت در تعلیمات تخنیکي و مسلکی سیزده برابر افزایش یافته که به تعداد ۲۰۰۰۰ تن شاگرد (16% اناث) در ٦۰ باب مکتب تعلیمات تخنیکي و مسلکی مصروف تعلیم هستند.
- بیشتر از ۹۵۰۰۰ تن شاگرد (27% اناث) در سال ۱۳۸۸هـ. ش از صنف ۱۲ فارغ گردیده اند.
- از سال ۱۳۸۱هـ. ش بدین سو همه ساله بیشتر از ۲۵۰۰۰۰ تن (62% اناث) یک دورهٔ ۹ ماهه سواد آموزی را سپری نموده اند.

- جهت تقویت اشتراک مردمی به منظور بهبود کیفیت معارف، ۸۵۰۰ شورای مکاتب تأسیس گردیده و ۴۵۰۰ مکتب به کمک و سهم گیری فعال مردم محل اعمار گردیده است.
- از جمله مکاتب که در سال های قبل از اثر مشکلات امنیتی مسدود گردیده بود، ۲۲۰ باب آن در سال ۱۳۸۸هـ. ش مجدداً بازگشایی گردیده که در آن بیشتر از دو صد هزار تن شاگرد مصروف فراگیری علم هستند.
- اصلاحات و انکشاف اداره جریان دارد؛ مسایل مربوط به اداره، نظارت و ارزیابی تقویت میگردد. سیستم جدید رتب و معاشات که مشوق عمده برای ارتقای کیفیت و زمینه ساز بهبود معیشت بوده به شکل سریع در حال تطبیق میباشد که تا اکنون ۷۰۰۰۰ هزار تن معلم تحت این سیستم آمده و از امتیازات آن مستفید می گردند، راه اندازی و تطبیق این سیستم تغییرات لازم و افزایش مناسب در معاشات تمامی منسوبین به شمول معلمین را به بار می آورد.
- به تعداد ٦٣٠٠٠ تن محصل در بیشتر از ۲۴ باب پوهنتون و مؤسسه تحصیلات عالی مصروف تحصیل هستند .

## چالش های عمومی یا بیرونی

در گزارش قبلی روی مشکلات داخلی ایکه معارف کشور را پیچیده است؛ طور تفصیلی صحبت نمودیم. اینک چالش های بیرونی معارف افغانستان را نیز مختصراً بیان میداریم تا بخش سوم را روی راهکار ها و راه حلها متمرکز سازیم.

۱ - ناامنی: بزرگترین مانع در برابر معارف افغانستان؛ جنگ و نام امنی جاری در کشور است. وزارت معارف افغانستان یک نهاد بی طرف است و نباید هیچ گروه مسلح و سیاسی آنرا قربانی زد و بند های سیاسی و نظامی خویش سازد و مانع در برابر نظام آموزش و پرورش در افغانستان گردند.

وجود جنگ، نبود امنیت و ناامنی باعث گردیده است تا در سال ۱۳۹۸هـ.ش در حدود سه و نیم میلیون کودک واجد شرایط آموزش از دسترسی به تعلیم باز ماند. در حال حاضر بیش از ۱۰۰۰ مکتب به دلیل ناامنی مسدود و احتمال بلند رفتن این تعداد نیز وجود دارد. ناامنی نه تنها باعث مسدود شدن مکاتب گردیده بلکه باعث گردیده تا مکاتب جدید نیز اعمار نشود.

۲ - استفاده از مکاتب به عنوان پناهگاه های نظامی: بسیاری مکاتب دور دست و ناامن منحیث پایگاه نظامی میان طالبان و دولت استفاده می گردند، چنانچه در ولایت هلمند و همچنان در منطقه چاه انجیر نادعلی یک مکتب را نیروهای امنیتی به پایگاه نظامی مبدل ساخته اند، هلمند و ارزگان از جمله ولایاتی

است که از تعداد محدود مکاتب شان منحیث پایگاه استفاده میشود، در سراسر افغانستان ٦٧ مکتب اکنون تبدیل به سنگر جنگ شده است از این تعداد ۴ مکتب در اختیار طالبان و بقیه از جمله سنگرهای نظامی نیروهای امنیتی کشور محسوب می گردد.

۳ - ساختمان بدون تعمیر مکاتب: به اساس آمار های آرائه شده از جانب وزارت معارف کشور در حدود ۹ میلیون دانش آموز در بیشتر از ۱۷ هزار مکتب مشغول آموزش هستند بعضی این مکاتب یا تعمیر نیمه کاره و یا هم بدون تعمیر هستند. از ۱۷ هزار مکتب ۹ هزار آن تعمیر دارد، ۸ هزار بدون تعمیر اند.

۴ - بودیجه: از بودیجه لازم تخصیص یافته برای معارف کشور به گونه درست و ضروری استفاده نگردیده است و این باعث شده تا در خود ولایت کابل مکاتب بدون تعمیر یا نیمه تعمیر باقی مانده و شماری زیادی از شاگردان در زیر خیمه ها و یا در خانه های کرایی مشغول آموزش شوند .

این در حالیست که رئیس جمهور غنی برای وزارت شهر سازی امر ساخت ۱۰۰ مکتب با استفاده از قطعات پیش ساخت را داده بود و در کنار آن ٦۰۰۰ مکتب دیگر را نیز اعمار نمایند و برای انجام این کار در حدود ۲۰۰ میلیون دالر بودیجه تخصیص داده شده بود. در کنار این وزارت معارف از ساخت ۲۰۰۰ مکتب دیگر با در نظر داشت نفوس نا متوازن  در مناطق مختلف خبر میدهد.

۵ - استادان غیر مسلکی: مسلکی نبودن بیش از ۴۰ در صد از استادان مکاتب یکی از چالش های جدی فراروی معارف کشور می باشد، وزارت معارف در چند سال اخیر معلم مسلکی استخدام نکرده است و با کمبود معلم، معلمان غیر مسلکی و حتا در برخی نقاط کشور مجبور به استخدام معلمان در خلاف رشته گردیده است. ولی وزارت معارف در پاسخ می گوید که معلمان مسلکی و با تجربه به دلیل ناامن بودن برخی مناطق و سیستم معاش دهی کم حاضر به تدریس نیستند بنا بر این وزارت تصمیم دارد تا برخی معلمان مسلکی را در نقاط مختلف کشور و با در نظر داشت سفر با محرم شرعی آن و پرداخت مصارف شان با معاش بلند استخدام نماید.

ولی به نظر میرسد که جذب ٢٦ هزار معلم مسلکی و اخراج معلمان غیر مسلکی و دوازده پاس در ۳۴ ولایت افغانستان کار دشوار و آسانی نیست.

٦ - فساد: در سال ۲۰۰۲م مطابق ۱۳۸۱هـ.ش تعداد آموزگاران به ۹۰۰ هزار متعلم پسر می رسید و هیچ متعلم دختر وجود نداشت ولی بعد از سال ۱۳۸۱ هـ.ش تا سال ۱۳۹۲هـ.ش این رقم به طور عجیبی بلند رفت و شامل ۱۱ میلیون متعلم گردید که وزارت و حکومت آن را دست آوردی بزرگی می دانست اما بعد از گزارش USAID از تعداد متعلمان در افغانستان این رقم ۱۱ میلیونی به ۹,۲ میلیون تنزیل پیدا کرد که پرسش برانگیز است.

در کنار این ۴۰ هزار و ۸۸۰ آموزگار خیالی، ۱۰۳۳ مکتب خیالی، ۱۴۰۰ پروژه ساختمانی مکاتب بدون طی مراحل قانونی تدارکات، بیش از ۲۰ میلیون دالر اختلاس در قرارداد چاپ کتاب های درسی، ، ناپدید شدن ٦۴ کانتینر حامل مواد درسی مکاتب(کتابچه، بکس، قلم, مواد خوراکه و ...) و ده ها مورد دیگری که از سوی وزارت معارف حیف و میل گردیده است را می شود از برجسته های موجودیت فساد در این وزارت دانست .

۸ - مدیریت: با وجود کوشش هائی که به خاطر تقویت ظرفیت های کادری و کاری صورت گرفته، توانمندی اجرائیوی سکتور معارف در سطح مرکز و ولایات هنوز هم ناکافیست و آنهم بیشتر معلول فقدان پرسونل متخصص که با معاش پایین حاضر به اشتغال در این وزارت نمی گردند بوده است. کمبود ساختمان «محل مناسب کاری» و تجهیزات مورد نیاز ب خصوص تکنالوژی معلوماتی پیچیده گی بیشتر را به مشکل عدم مدیریت درست در وزارت معارف کشور به بار آورده است".

## یادداشت ضروری

مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی CSRS در نظر دارد تا بخاطر تمرکز بیشتر روی قضایای جاری کشور و بالا بردن کیفیت تحلیل ها؛ سر از ۱۵ حمل ۱۳۹۹ هـ ش / اول اپریل سال ۲۰۲۰ م تحلیل هفته وار خویش را در هر دو هفته یکبار به نشر برساند، خوانندگان محترم مطلع باشند.

**ارتباط با ما:**

**لطفا نظریات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه با ما شریک سازید.**

**ایمیل:** csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com

**ویبسایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.af

**شمارهٔ تماس دفتر:** + 93 (0) 784089590